مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیلانی

۲۰۲۰/۰۸/۰۹

# درې چاپ شوي اثار او نيمګړي سرليکونه




لهٔ څو ورځو را هيسې د « پوهنيار محبوب شاه محبوب » ليکل شوي اثار، مې د فېسبوک پاڼې مخې ته اوړي را اوړي، څو ځله ترې تېر شوم، ما ويل د نقد ارزښت نهٔ لري. ځکه دلته هرڅهٔ ګډوډ او پرته لهٔ اصولو پر مخ ځي. زموږ پهٔ ټولنه کې به ليکوال پهٔ يوه برخه کې يوه ډګري لري، خو ځان د ځلويښتو علومو متخصص ګڼي. دا کار د نړيوالو اکاډميکو پرنسيپونو خلاف عمل ګڼل کيږي او ترڅنګ پر خپل شخصيت، پوهې، او ټولنې ملنډې وهل دي.

نوښت او تخليق د پښتو ژبې او ادبياتو د ليکوالو پهٔ اثارو کې تر ډېره نشته، کهٔ وي هم هغه د ګوتو پهٔ شمار ليکوالان دي، چې ليکنې يې يادې ځانګړنې لري. زموږ د بې وزلې پښتو پهٔ برخه به همدا وي، چې يو لهٔ بل څخه يې کاپي کړو او پښتنو ته يې د منسوخ شوي تورات، انجيل او زبور پهٔ توګه ور وړاندې کړو، چې هېڅ درد نشي دوا کولی.

زهٔ ښاغلی محبوب لهٔ نږدې نهٔ پېژنم، خو دومره يې پهٔ اړه پوهېږم چې دی د کابل پوهنتون استاد دی او ځان د ژبپوهنې متخصص ګڼي. دی د « پښتو ژبدود » پهٔ نوم يو اثر لري. دا ژبدود د پښتو ژبې ګرامر دی .( ! )

ما پهٔ يوه ليکنه کې د پښتو ژبې ټول ګرامرونه يو لهٔ بله سره پرتله کړي دي. ددهٔ، د پوهاند محمد صابر خويشکي او پوهاند محمد آقا شېرزاد ګرامرونه پهٔ درېيو بېلابېلو بڼو او ډيزاينونو چاپ شوي دي، ليکن د منځپانګې او موضوعاتو لهٔ مخې هېڅ توپير نهٔ لري. ددې ترڅنګ دا درې ګرامرونه د نوښت پهٔ نوم څهٔ نهٔ لري، يوازې د سرليکونو ډيزاين يې توپير کوي او زهٔ د ژبپوهنې د يو کمزوري محصل پهٔ توګه ښه پهٔ زغرده ويلی شم، چې ياد ګرامرونه نيمګړي دي او هر سرليک يې د کره کتنې وړ دی.

ما ياد ګرامرونه نقد کړي دي، چې پهٔ يو مناسب وخت کې به يې لهٔ تاسو سره شريک کړم...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

غواړم اصل موضوع ته راشم. د محبوب شاه محبوب  پهٔ لاندې درېيو اثارو کې ما يوازې « پښتو ژبدود » لوستى دى. دا دوه نور اثار « ادب جاج او فرهنګ جاج » يې نوې زما تر سترګو شول، ممکن نوې لهٔ چاپ څخه را وتي وي.

پښتو ژبدود
ادب جاج
فرهنګ جاج

لومړى: ښاغلى محبوب، « پښتو ژبدود » د پښتو ګرامر پهٔ معنا کاروي. زما پهٔ آند دا سرليک نهٔ يوازې د پښتو ګرامر استازيتوب نشي کولى، بلکې د پښتو ژبې ګرامر لهٔ اصلي معيار څخه را اوباسي او د ګډوډ، دود او فولکلور پهٔمنګولو کې يې را ايساروي .

پښتو ژبددود يعني څهٔ؟ دوديزه  پښتو يا مروجه پښتو؟ کهٔ تعبير يې داسې وي، نو د يوې ژبې ګرامر پهٔ دوديزه توګه نهٔ ليکل کېږي، ځکه د يوې ژبې ګرامر ثابت اصول او ټول منلي ليکدود لري. کهٔ ګرامر دوديز و ليکو، نو د ډېرو نورو ستونزو ترڅنګ يوه لويه ستونزه به يې دا وي، چې ليکل شوى اثر مو د يوې لهجې او سيمې پورې اړوند وي. ددې ترڅنګ نوښت به نهٔ لري، لکه چې ژبددو يې نهٔ لري.  همدارنګه د ټولو ګړودونو لهٔ پاره به د منلو وړ هم نهٔ وي.

زهٔ فکر کوم «پښتو ژبدود »  د فرهنګ پارسي درې، د ستور زبان پارسي درې او فرهنګ زبان، پښتو ناڅرګنده ژباړه ده. ليکوال کېداى دا فکر کوې او يا دا هڅه کوې، چې پهٔ يو نوې سرليک خپل اثر لوستونکو ته ورپېژني، خو دا کار يې تېرتته ده نهٔ نوښت.

موږ د سرليک يا ټايټل  پهٔ ټاکلو کې خو بنسټيز اصول لرو، هغه دا چې سرليک مو عام، ساده، ښېپړ او د منځپانګې استازيتوب وکړي، خو لهٔ بده مرغه ياد سرليک ټولې يادې ستونزې لري. پهٔ هيڅ صورت « پښتو ژبدود» د پښتو ګرامر معادل نشي کېداى، حتا پهٔ لوى لاس زموږ ګرامر يوې لهجې، سيمې، شفاهي رواياتو او دوديزو مسايلو پورې تړي. دا پهٔ داسې حال کې ده، چې ژبپوهنه ډېرى نړيوال ثابت او ټولمنلي اصول لري او لکه د ادبياتو، فولکور او هنري نثرونو پهٔ شان د خيال او فکر پهٔ ټال کې  نهٔ زنګول کېږي. موږ ژبپوهنيزو سرليکونو ته شاعرانه، فولکلوريک، دويز او  هنري سرليکونه او حتا کلمات نشو کارولى، ځکه ژبپوهنه علم دى، نهٔ هنر، چې د هرچا د وسې کار وي.

دويم او درېيم : « ادب جاج، فرهنګ جاج »

ياد سرليکونه پهٔ ځانګړې توګه د يو اثر د عمومي سرليک يا پېښتې لهٔ پاره ناسم او لهٔ نحوي پلوه نيمګړي دي.

دواړه سرليکونه د معنا او مفهوم د بشپړاوي پهٔموخه « د » ته  اړتيا لري. کهٔ چېرې ياد سرليکونه پرته لهٔ « د » څخه ( ادب جاج او فرهنګ ) ولوستل شي،نو بې مفهومه او بې معنا سرليکونه ګڼل کېږي،چې نهٔ يوازې معنا افاده کولى نشي،بلکې د ليکوونکي شخصيت او پوهه لهٔ صفر سره ضربوي .

 د احمد قلم. کهٔ لهٔ نوموړي ترکيب څخه « د » لرې کړو، نو « احمد قلم» پاتې کېږي. اوس کهٔ همدا نيمګړى ترکيب لهٔ يادو سرليکونو سره پرتله کړو هيڅ توپير پکې نهٔ تر سترګو کېږي، لکه: « احمد قلم، ادب جاج، فرهنګ جاج» موږ د دال يا د اضافت توري د کاروني  او حذفولو لهٔ پاره ځانګړي اصول او مشخص ځايونه لرو،  کله چې يو ځانګړى نوم د يو عام نوم سره پهٔ داسې توګه راشي چې هم خاص نوم ټوليز وي او هم عام نوم ټوليز وي، پهٔ دې صورت کې د دواړو نومونو پهٔ ترکيب کې کهٔ «د» و نهٔ کارول شي،خپله معنا افاده کولى شي. لکه: پکتيا پوهنتون، کابل پوهنتون، کابل ښار....

مګر د ادب جاج او فرهنګ جاج پهٔ ترکيبونو کې د « د » د حذفولو  هيڅ ډول شرايط نهٔ تر سترګو کېږي، ځکه ادب او فرهنګ دواړه د معنا نومونه دي او ترڅنګ يې جاج يو ځانګړى مقيد خاص نوم دى، چې د ټولو لهٔ پاره نهٔ، بلکې د يو شخص يا کس لهٔ پاره ځانګړى کېدلى شي او د يادو نومونو ترکيب او جوړښت پرته د « د » لهٔ کلمې څخه خپله معنا نشي وړاندې کولى، نو اړينه ده چې « د » يې پهٔ پيل کې د ملکيت يا اضافت لهٔ پاره وکارول شي.

کهٔ ښاغلى محبوب دا دليل راوړي چې زموږ ليکوال پهٔ « ادبي کره کتنه،  ادب تاريخ او ادب تيوري » کې ولې د اضافت توري يا دال نهٔ کاروي، نو پهٔ ځواب کې به يې ووايم چې کله يو صفت او موصوف سره يو ځاى شي، هلته


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د اضافت توری لهٔ پامه غورځي. لکه: سور ګل، سپين ګل... پهٔ ادب تيوري، ادبي کره کتنه او ادب تاريخ کي «تيوري، ادبي اوب» د نوم تر څنګ د ستاينوم دنده او ځانګړنه هم لري، نو ځکه دال تريې لهٔ پامه غورځول کيږي .

ياهم کهٔ چېرې ښاغلی محبوب د همدې دليل لهٔ پاره د زيار صاحب « پښتو پښويه » راوړي، چې دلته ويلی دال نهٔ دی ليکل شوی، بياهم بايد ووايم چې پهٔ دغهٔ برخه کي دوه لاملونه شته:
لومړی: خج د پښويه پهٔ ی راغلی دی. موږ د دال پهٔ کارونه کي يوه قاعده داسې لرو، کله چې پهٔ يو ترکيب کي خج پر وروستی څپه راشي نو هلته د دال کارولو ته اړتيا نشته.

دويم: پښتو پښويه کي « پښويه » د ستاينون ځانګړنه او دنده لري، نو پښتو پښويه يو توصيفي ترکيب دی، پهٔ توصيفي ترکيب کي د دال کاروني ته اړتيا نشته.

کهٔ چېرې د يادو اثارو سرليکونه ادبي جاج او فرهنګي جاج وی، نو ستونزه به تر ډېره حل وه. ځکه لهٔ جاج څخه مخکي ادبي او فرهنګي کلمې د ستاينوم ځانګړنې خپلوي او د دال د خذفولو زمينه مساعده وي .

کاش! دا اثار لهٔ چاپ وړاندې مخکتنې يا کره کتنې ته وړاندې شوي وی، نو اوس به ياده ستونزه حل وه. خو لهٔ بده مرغه زموږ ليکوالان لهٔ کره کتنې يا کره کتونکي سره کلکه دوښمني او الرجي لري.

پهٔپای کي بايد ووايم، هر ليکنه، اثار او وينا زموږ د پوهې استازيتوب کوي، موږ بايد داسي څهٔ تولنې ته وړاندې کړو چي هغه نوښتيز او تحليقي وي، پښتو ادبيات او ژبه لهٔ تکراري مطالبو مالهٔ مال ده...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ